عبدالغفور لېوال

۲۰۲۴/۱۰/۲۹

# اطلاعاتو ته د لاسرسي حق

# او تياره افغانستان

د اطلاعاتو ترلاسه کولو حق، د وګړيو هغه بنسټي حق دی، چې د مدني او سياسي حقونو د نړيوال میثاق د ۱۹مې مادې پر بنسټ هر وګړي ته حق ورکوي؛ ټولو هغو اطلاعاتو ته لاسرسی ولري، چې د ده په فردي، ټولیز او ټولنيز ژوند پورې تړاو لري او د ده معنوي و مادي ژوند ترې اغېز مومندلای شي.

هر انسان حق لري چې هغو معلوماتو او اسنادو ته لاسرسی ولري چې د عامه ادارو په اختيار کې وي. دا حق د شفافيت پر اصل ولاړ دی او ښاروندانو ته اجازه ورکوي چې د حکومت او عامه ادارو د فعاليتونو په اړه خبر شي، په ځانګړې توګه هغه معلومات چې د دوی له حقونو يا ګټو سره تړاو لري. قانوني استثنا په دې برخه کې خورا کوشنۍ او ځرګنده ده او يوازې په هغو ځانګړو مواردو راڅرخي، چې ملي امنيت، شخصي حريم يا د عامه ګټو ساتنه ګواښلای شي.

د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق د ۱۹مې مادې دويم بند وايي:
**«هرڅوک د بيان د ازادۍ حق لري. په دې حق کې له هر راز حدودو او پولو پرته، د هر ډول معلوماتو او نظرياتو په ازاده توګه پلټل، ترلاسه کول او خپرول شامل دي. که دا په شفاهي ډول وي، د ليکلو، چاپولو، هنري بڼه، يا په هر بل وسيله چې يې خپله خوښه وي. »**

په افغانستان کې د تېرو دريو کلونو په ترڅ کې په تدريج خو په بنسټي او مديريت شوي بڼه دغه حق له منځه ولاړ او نن افغانستان د بيان د ازادي، اطلاعاتو ته د لاسرسي او د رسنيو د قانوني او معقولي ازادۍ ارزښتونه ټول تروړل شوي دي.

په لومړي ګام کې په رسنيو کې د ښځو کار و حضور محدود شو، بيا يې ښځې اړ کړې، چې ماسک وتړي، بيا له اقتصادي پلوه د خپلواکو رسنيو سقوط ته لاره هواره شوه، لسګونه ژورناليستان وګواښل شول، زنداني شول، وربرول شول، ووژل شول، له وطنه وشړل شول يا يې خولې وروګنډل شوې او يا هم وپېرودل شول. روسته يې رسنيو ته مکتوبونه ولېږل، چې د واکمنې ډلې پرخلاف څه مه خپروئ، بل ګام دا و، چې هرڅه خپريږي، بايد د واکمنې ډلې له فلتره تېر شي، بيا يې په رسنيزو بحثونو کې د شنونکيو ګډون ممنوع اعلان کړ... او دا دی اوس خبره دې ته راورسيده، چې په تلويزيونونو کې دې د ژونديو موجوداتو تصويرونه نه ښوول کيږي. دا به د بشريت په تاريخ کې لومړۍ تجربه وي، چې تلويزيون دې خپروني ولري، خو انسانان و ژوي دې په کې ښوول کيږي نه. ښه طنز دی، ښايي اوس بحث پر دې وي، چې ګلان، ونې و بوټي هم په ژونديو کې راځي، دا څنګه؟ وښوول شي که نه؟
تېر کال د خبرياﻻنو په يوه غونډه کې يوه ښاغلي، چې تر دې مهاله ماته د رسنيزو چارو يو مجرب فعال ښکارېده، د افغانستان او رسنيو په اړه وويل:

«... په افغانستان کې محدوديتونه، سانسور او استبداد ډېر دی، خو ﻻ هم په شمالي کوريا بدل شوی نه دی...»

د ښاغلي رسنوال دغې تبصرې حيران کړم، ماته يې دا وينا له درېيو احتمالاتو لرې نه‌ښکاري، يا زموږ ښاغلی دوست د بيان د ازادۍ تر‌پښو لاندې کول سم نه‌پېژني و سياسي چلند ورسره کوي، يا په شمالي کوريا کې له رېښتينې وضعيته خبر نه‌دی او يا هم په دې نه پوهيږي، چې په افغانستان کې څه تېريږي؟

اصلاً له دې اړخه د افغانستان و شمالي کوريا پرتلنه ساده‌ګي ده. په افغانستان کې د انګريز او پاکيستاني ښکېلاک له تکتيکونو راوتلې يوه تياره ايډيولوژيکه ديکتاتوري استبداد کوي او په شمالي کوريا کې د کومونيزم يوه مسخ شوې ديکتاتوري واکمنه ده، چې تر ډېره بريده د کومونيزم تر بالاپوش لاندې د يوې کورنۍ مطلقه سلطنت دی، نه د پرولتاري پوره ديکتاتوري، چې تکل يې د يوې سوسياليستي ټولنې رامنځته کول وي. دا دواړه دومره سره لرې و متضاد دي، چې زموږ د ښاغلي ژورناليست پرتلنه له بنسټه ناسمه زباتوي.

د شمالي کوريا و افغانستان ترمنځ د اطلاعاتو تر لاسه کولو د حق، د بيان ازادي او رسنيزه خپلواکي له څو اړخونو سره توپير لري. په افغانستان کې په رسنيو او اطلاعاتو بنديز د ويرې له امله دی، په شمالي کوريا کې د استبدادي مطلق‌العنان اقتدار له امله. شمالي کوريا اطلاعات و خبررسونه کورنۍ کړې ده او له پانګوالي نړۍ سره يې د اطلاعاتي اړيکو پرېکون کړی دی، خو په افغانستان کې د واکمنې ډلې له بنسټه د رسنيو له شتون سره ستونزه راولاړه شوې ده او د دوی د بنديزونو لړۍ به يوه ورځ دې ته رسيږي، چې په ټول افغانستان کې يوه راډيو« شريعت‌غږ» او يو اخبار «شريعت» وي، چې يوازې و يوازې به د دوی خبرتياوې و تبليغات خپروي او بس. حال دا چې په شمالي کوريا کې ګڼ دولتي تلويزيوني چينلونه فعال دي، چې موسيقي، فيلم، تياتر، تفريحي پروګرامونه، روزنيزې علمي خپروني او د کوريا له ګټو سره سم خبري سرويسونه لري. شمالي کوريا د امپرياليزم هنر و فرهنګ نه خوښوي، خو پر ځای يې د شمالي کوريا فرهنګ و هنر په داسې پراخه پيمانه خپروي، چې خپلو خلکو ته وښيي؛ ټوله لويديزه نړۍ يوه خوا او شمالي کوريا بله خوا. د شمالي کوريا د استبداد موخه په هره برخه کې له ټولې پانګوالې نړۍ سره د شمالي کوريا د سيال کولو او ډېرې وهلو هڅه ده، خو په افغانستان کې د ټولو خلکو په خولو، سترګو او غوږونو د بشپړې تيارې پرده هوارول دي او هغه هم په دې نامه چې تاسو ټول بايد له دې لارې جنت ته ولاړ شئ. د شمالي کوريا استبداد د دوی له نظره عقلاني دی، خو د افغانستان استبداد خرافاتي و د يوه بشپړ شاته ساتل شوي شعوري و فکري وضعيت پايله ده، چې په دويمې و درېيمې هجري پېړۍ کې نښتی دی. د افغانستان د استبداد پيغام دا دی، چې: « مه خبريږئ، ځکه که خبر شوئ، نو ګناهګاريږئ!»

دواړه استبداده په يوه برخه کې سره ورته دي او هغه د استبداد نفس دی چې دواړو يې د دوو ملتونو بنسټي خپلواکې تر‌پښو لاندې کړې او په شدت سره ناانساني دي.

په افغانستان کې په (ځان خبرولو) بنديز دی. د ځان خبرولو بنديز تر ټولو ګواښمن او ناانساني بنديز دی. افغانان حق نه لري، چې خبر شي:

- د دوی پر برخليک څه لوبه روانه ده؟
- څوک افغانستان ته راځي؟
- څه ډول نيابتي ډلې په کې جوړيږي؟
- څوک وسلې و پيسې ورکوي؟
- څنګه د افغانستان د پاکيستانايزېشن ( پاکيستاني‌کولو) پروسه په چټکۍ سره روانه ده؟
- له وطنه د تېښتې په هڅه کې په کډوالو څه پېښيږي؟
- په ګاونډيو هېوادونوکې له افغانانو سره څه روان دي؟
- د افغانستان شتمنۍ څنګه لوټيږي؟
- له کانونو سره څه لوبه روانه ده؟
- د ملي پوځ و پوليسو له منسوبينو سره څه کيږي؟
- ملتپال عناصر څنګه ځپل کيږي؟
- څنګه د افغان، افغانيت او افغانستان ملي ارزښتونه هره ورځ پيکه کيږي او د پاکيستاني مدرسو له استخباراتي نصاب څخه راپنځېدلې افغان ضد پاليسی د پان‌اسلاميستي تفکر په بنه د ملي هويت جرړې له بيخه راباسي؟

که له دې پوښتنو څخه افراطي ويره نه وای، پر رسنيو، د بيان په ازادۍ، په تلويزيون کې په تصويرونو، له ټوليزو شبکو او ښځو او زده‌کړو سره به دومره حساسيت نه وای.

مونتسکيو په روح‌القوانين کې يو عجيب بحث لري، چې لنډيز يې دلته د رواني واکمنې ډلې ويره ترسيمولای شي، دی وايي: د ديکتاتورۍ تشدد د هغې د ويرې پايله ده. مستبده ديکتاتوري له خلکو ويريږي، د خلکو له خبرېدا او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

پوهېدا، روښانېدو او ويښتيا يې زړه چوي او د ويرې ځواب په ويرهخپرولو ورکوي. مستبده ديکتاتوري خلک له رڼا او پوهېدا، خبرېدو څخه ويروي او هغه ديکتاتوري چې د مذهب وسله کاروي، تکفير ته مخه کوي او روښانتيا، خبرېدل، ويښتيا او پوهېدل له کفر سره معادل ګڼي.

که د مونتسکيو په وينا دا ويره نه وي، نو څوک به ومنلای شي، چې په يويشتمه پېړۍ کې يوه واکمني دې خپل خلک له دې کبله له تلويزيون کتلو څخه منع کړي، چې ګواکې د ژوندي تصوير کتل ګناه لري(؟!) او سړی په هينداره کې ځان ته په کتلو هم دوزخ ته ځي.

د ايډيولوژيکې ديکتاتورۍ د لاندينيو ليکو ساده او بېخبره وسلوال ښايي په همدې عقيده وي، خو د منځنې کچ مسئولين او مشران يې ښه په دې پوهيږي، چې د دوی دا ادعا درواغ ده او دوی دغه په ظاهره ديني مسئله د يوه سياسي تاکتيک په توګه کاروي.

موږ په يويشتمه پېړۍ کې ژوند کوو، د ټولې نړۍ د خبرونو سرچينه د هرچا په جيب کې پرته ده، له يوې څلويښت ميليوني ټولنې څخه د «ځان خبرولو» امکانات تروړل تقريباً ناشونې بريښي، خو استبداد خپله هڅه کوي. پر افغانستان د معلوماتو د خپراوي له اړخه اطلاعاتي تياره خپرول د استبداد د تنازعللبقاء روستۍ ناکامه هڅه ده. هغه څه چې ممکن دي او بايد وشي، هغه د افغانستان د خلکو د خبرولو لپاره د ځايناستو امکاناتو پلټل دي. په تبعيد کې خبريالان او رسنۍ مکلفې دي، چې د واکمن استبداد له خوا دغه رامنځته شوې تشه ډکه کړي، موږ باور لرو چې دا هڅه به هغومره اغېزناکه نهوي، لکه په افغانستان کې دننه رسنيزې هڅې، خو په اوسنۍ کړکېچن حالت کې دا يوازيني ممکن څه دي، چې د بيان، رسنيو او ځانخبرولو د ازادۍ په حقونو باخبره افغانان يې کړلای شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ